# د روژې احکام، مسایل او فضایل

۱

## د روژې تعریف

صوم په لغت کې: له صام یصوم او صیاما څخه اخیستل شوی دی، چې د ځان بندولو په معنا سره راځي، برابره خبره ده که دا ځان بندول د خوراک نه وي، که له څښاک نه وي او یا هم له خبرو نه وي.

الله تعالی فرمایي:( فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا) [مریم (26)].

ژباړه: او که کوم انسان دې ولید، نو ورته ووایه: ما د لوراند لپاره روژه نذر منلې ده، نو ځکه به له هیچا سره خبرې نه کوم».

Ketabton.com

نو (صوم) دلته د خبرو څخه د ځان ساتلو په معنا سره ذکر شوی دی.

[لسان العرب لابن منظور].

او د شریعت په اصطلاح کې: د سبا صادق له ختلو څخه تر لمر پرېواته پورې په نیت سره د خوراک، څښاک، جماع او نورو روژه ماتوونکو شیانو څخه ځان ساتلو ته وایي.

# د روژې حکم

د رمضان روژه د اسلام رکن دی چې په قران، سنت او د امت په اجماع سره په هر مسلمان فرض ده.

الله تعالی فرمايي: ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) [بقرة (183)].

ژباړه: هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقيان شئ.

او په بل ایت کې فرمايي: (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدىً لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ) بقرة (185).

ژباړه: د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلکو لپاره هدایت دی، او د هدایت او د فرقان (د حق او د باطل بېلوونکي) ښکاره دلیلونه دي، نو په تاسو کې چې څوك دې میاشتې کې حاضر و، نو هغه دې د دې روژې ونيسي.

رسول الله ﷺ فرمايي: اسلام په پنځوو ستنو ولاړ دی: اول د الله تعالی د توحید او د محمد رسول الله ﷺ د رسالت گواهي کول، دويم لمونځ کول، دريم زکات ورکول، څلورم حج کول او پنځم د رمضان د میاشتې روژه نيول. اسلامي امت د روژې په فرضيت اجماع کړې او هر څوک يې چې له فرضيت منکر شو کافر دی. [متفق عليه]. [مراتب اللجماع لابن حزم الظاهري].

# ۳ د روژې د فرضیت شرطونه

روژه په لاندې کسانو باندې فرض ده:

1. مسلمان: په کافر روژه نشته.

2. عاقل: په لېوني روژه نشته.

3. بالغ: په نابالغ ماشوم روژه نشته.

4. روغ: په هغه ناروغ روژه نشته چې د روژې په نیولو سره یې ناروغي زیاتېږي، یا یې په رغېدو کې وروسته والی راځي.

5. مقیم: په مسافر د رمضان روژه نشته، بلکې که ډېر تکلیف نه و؛ بیا مستحب ده چې روژه ونیسي.

6. قادر: په هغه چا روژه نشته چې طاقت یې نه لري، لکه شیخ فاني، هغه ناروغ چې د رغېدو امکان یې نه وي، حامله ښځه، هغه ښځه چې ماشوم ته تی (شېده) ورکوي او د روژې په نیولو سره ښځې ته او یا یې هم ماشوم ته د ضرر رسېدو وېره وي.

7. د حیض او نفاس نه پاکوالی: هغه زنانه چې د حیض یا نفاس په حالت کې وي روژه پرې نشته خو وروسته به یې قضایي راوړي.

- یادابښت: دا شروط ټول په قران او حدیث کې ثابت دي.

# د روژې ارکان او فضیلت

1. نیت: او د نیت ځای زړه دی او دا کافي ده چې له اولې ورځې نه د ټولې میاشتې د روژو نیت وشي، د پیشنمي لپاره تیاری، د روژې د بندولو لپاره د صبا د ختلو تالاش کول او داسې نور د نیت قایم مقام دي.

2. له روژې ماتوونکیو شیانو نه ځان بندول: چې خوراک، څښاک او جماع ده ( یعنې د خېټې او د عورت له شهوت نه ځان بندول).

3. وخت: د روژې وخت د فجر صادق (صبح صادق) له ختلو نه تر لمر پرېوتلو پورې دی.

رسول الله ﷺ فرمایي: ( چا چې د ایمان له امله او د ثواب په نیت روژه ونیوله؛ نو ټول مخکني گناهونه به ورته وبخښل شي. [صحیح بخاري].
که روژه دې د ایمان له امله ونیوله، نه د وزن کمېدو یا صحتمندۍ یا نورو گټو لپاره؛ نو تا په حدیث کې د روژې له شرطونو نه لومړی شرط بشپړ کړ او که روژه دې د ثواب گټلو په نیت ونیوله، نه د ریا کارۍ په نیت؛ نو په حدیث کې د روژې دویم شرط دې بشپړ کړ چې همدې سره تاته د رسول الله ﷺ له طرفه دا زیری دی چې ټول مخکني گناهونه به درته وبخښل شي( ان شاء الله تعالی).

۵

# د روژې د فرضیت حکمت

روژه ډېرې ګټې لري او دغه ټولې ګټې د هغه څه پر محور چورلي چې الله تعالی د هغه لپاره مشروع ګرځولې ده چې هغه (تقوا) ده. تقوا دا خبره په ډاګه کوي چې الله تعالی مونږ ته د کومې خبرې امر کړی دی، مونږ یې سرته رسوو او له څه نو مو چې بندوي ځان ترې ژغورو، الله تعالی فرمايي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (بقره-183)**

ژباړه: هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ.

په دې ایت کې د (لعل) لفظ د علت (لامل) په بیانولو دلالت کوي، یعني روژه له دې امله ونیسئ چې د الله تعالی ویره (تقوا) په تاسو کې پیدا شي او بیا د الله اوامر منئ او د حرامو څخه ځان ساتئ.

٦

# د روژې نه نیوونکي حکم

څوک چې په رمضان کې د کوم شرعي عذر له امله لکه( سفر، مرض، او داسې نور...) روژه ماته کړي؛ نو پر ده هیڅ ملامتیا نشته؛ خو که یو کس پرته له شرعي عذر نه روژه ماته کړي؛ نو اول یې باید حالت ته وکتل شي، که د سستۍ، تنبلۍ او نفساني خواهشاتو له امله یې ماته کړي وي لکه ( خوراک، څښاک، جماع کول او داسې نور) او په دې عقیده وي چې د رمضان د میاشتې روژه نیول فرض او د اسلام رکن دی؛ نو داسې انسان گناهگار او د لویې گناه مرتکب دی، که یې د خلکو په مخکې ماته کړې وي؛ نو دا فاسق او ښکاره گناه کوونکی دی.

حافظ ذهبي رحمه الله فرمايي: د مومنانو په نزد دا ثابته خبره ده چې څوک د رمضان روژه پرته له کوم شرعي عذر څخه ماتوي نو دا کس د زناکار او همېشني شراب خور نه غټ گناهگار دی [الکبائر].

مگر هغه څوک چې د رمضان د روژې له فرضیت نه انکار کوي، لکه یو سړی ووایي د رمضان روژه له سره شته نه؛ نو دا سړی د ټولو علماوو په اجماع کافر دی، ځکه د رمضان روژه له ضروري احکامو څخه ده او دا د دین یو رکن دی چې اسلام دین پرې ولاړ دی؛ څوک چې له دې نه انکار کوي او ماتول یې حلال بولي؛ نو ده د اسلام اصل مات کړ.

# ۷

## د روژه خوړونکي سزا

د دې نه دلته مراد: د هغه چا لپاره دنیوي سزا ده چې له شرعي عذر نه پرته یې په قصد سره د رمضان روژه ماته کړې وي:

د داسې کس عقوبت د هغه په عقیدې پورې اړه لري، که یو کس له عذر پرته روژه وخوري؛ خو فرضیت نه یې انکار نه کوي؛ نو دا به یا په دورو وهل کیږي، یا به بندي کیږي او د رمضان د میاشتې تر پایه به د ورځې له خوراک او څښاک نه لرې ساتل کیږي، یا دا چې امیر المؤمنین به ورته کومه بله مناسبه سزا وټاکي د دې لپاره چې د ده او نورو روژه خورو لپاره د عبرت درس وګرځي، خو هغه کس چې د رمضان د روژې خوړل حلال ګني؛ نو هغه به وژل کیږي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي: که یو کس د پوهې با وجود د رمضان د روژې خوړل روا ګڼي؛ نو د داسې کس وژل واجب دي، هو که په حرام والي یې عقیده ساتي؛ نو په دې صورت کې به د مسلمانانو امیر د ده لپاره د حالت مطابق سزا ټاکي.

[مجموع الفتاوی].

# ۸ د روژې مستحبات او مکروهات

» د روژې مستحبات:

1. پېشنمی: په پېشنمي کې وروسته والی کول مستحب عمل دی.

2. د ورځې په اوږدو کې او د روژه ماتي پر مهال دعاګانې غوښتل.

3. په روژه ماتي کې تادي کول: یعنې د لمر له پرېوتلو سره سم روژه ماتول.

4. په تازه خرما روژه ماتول: چې عدد یې طاق وي، که تازه نه وي نو په وچه خرما او که دا هم نه وي؛ نو بیا په اوبو سره مستحب دي.

5. روژه نیوونکو ته روژه ماتی ورکول.

6. نوافل ډېر کول: (تلاوت، تراویح، صدقه، اعتکاف...)

7. په مسجد کې د جمعې د لمانځه پابندي... او داسې نور د خیر کارونه سر ته رسول.

» د روژې مکروهات

1. په مباحاتو کې اسراف کول: لکه په مضمضه یا استنشاق کې مبالغه کول او همدارنګه بې ضرورته د خوراک خوند کتل.

2. د روژې مستحبات پرېښودل: لکه په پېشنمي کې (د روژې بندولو کې) تادي کول یا ماښام د روژې په ماتولو کې وروسته والی کول.

3. د الله تعالی له ذکر نه پرته بې ضرورته ډېرې خبرې کول او په لوبو شپې شبګیرول.

4. بد اخلاقي کول: لکه حسد، کینه، دروغ ویل، د بې حیایی خبرې کول، نامحرمو ته کتل او داسې نور...

# د روژې مباحات

1. روژه کې د جنابت، حیض یا نفاس غسل سهار ته وروسته کول.

2. د هغه شیانو تیریدل چې ځان ترې نه ساتل کیږي، لکه: لاړې، بلغم، ګرد غبار او داسې نور...

3. د اړتیا په وخت کې د خوراک خوند کتل، لکه په کور کې د پخلي پر مهال یا په بازار کې د سودا اخیستلو پر مهال یا ماشومانو ته د خوراک ورکولو پر مهال د خوراک خوند کتل خو تېروې به یې نه.

4. د عطرو یا نورو شیانو بویول، سترګې تورول او مسواک وهل.

5. لمبل یا په اوبو کې غوپه کېدل: په هغه صورت کې چې اوبه تیرې نه شي.

6. د هغه شیانو په واسطه درملنه کول چې معدې ته نه ځي، لکه: په رګ یا غوښه کې د هغه ستنې (پیچکارۍ) کول چې د تغذیې لپاره نه وي جوړه شوي او د مړښت سبب نه کیږي.

7. سترګو او غوږونو کې څڅک اچول هم جایز دي.

۱۰

# د روژې باطلونکي ( ماتوونکي)

1. د روژې د شرایطو نه د کوم شرط ماتیدل: لکه د مسلمان مرتد کیدل، د عاقل لیوني کېدل یا د یوې ښځې حیض یا نفاس راتلل.

2. د روژې له ارکانو څخه کوم رکن ماتیدل، لکه: په قصد سره خوراک، څښاک کول( که په سهوې سره وشي؛ نو بیا روژه پرې نه ماتیږي). په جماع (کوروالي) او په قصد سره د مني ویستلو باندې. نوټ: د رمضان په میاشت کې د ورځې احتلام (خوب کې د غسل اووښتل) روژه نه ماتوي.

3. قصدا ګانګې (استفراغ، التهې) کول ( که غیر اختیاري وشي نو بیا پرې روژه نه ماتیږي).

4. په حجامت سره وینه ویستل(ښکر لګول)، ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: د ښکر لګوونکي او ښکر لګول شوي دواړو روژه ماتېږي. [صحیح دی ابو داود او نورو روایت کړی].

د ښکر لګوونکي روژه ځکه ماتیږي چې دا په خولې سره وینه وباسي؛ نو امکان لري چې وینه یې تیره شي او که حجامت په پرمخ تللو وسایلو سره وو؛ نو بیا د ده روژه نه ماتېږي، یواځې د هغه کس روژه ماتیږي چې ښکر ورته لګول کیږي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**